RESETTLEMENT SUPPORT CENTER RSC

CORE
Cultural Orientation Resource Exchange



# د متحده ایالاتو د کډوالو د منل کیدلو برنامې بیاکتنه

که چیرې تاسو یو کډوال یاست او خپل کورني هیواد ته بیرته راستنیدلي نشئ، نو تاسو ممکن بل هیواد ته د لیږدولو وړ یاست. دې ته بیا میشتیدنه ویل کیږي. بل هیواد کې بیا میشت کیدو لپاره، تاسو باید  د منل کیدلو د یوې رسمي پروسې له لارې ومنل شئ. ټول هغه هیوادونه چې کډوال د بیا میشته کیدو لپاره قبلوي، د بیا میشته کیدو مختلفي کړنلارې لري.

د امریکا متحده ایالات د نړۍ یو له هغه هیوادونو څخه دې چې کډوال د بیا میشته کیدو لپاره قبلوي. له 1980 راهیسې، امریکایانو **د متحده ایالاتو د کډوالی داخلي برنامې یا د USRAP** له لارې له ټولې نړۍ څخه تر 3 ملیونو څخه ډیرو کډوالو ته تود هرکلی وکړی.

د کډوالو د بیا میشتیدنې هره قضیه ځانګړې ده او د USRAP پروسې بشپړولو لپاره د اړین وخت اوږدوالی د هرې قضیې په شرایطو پورې اړه لري. بیا میشتیدنه یو انتخاب دی چې یوازې د لږ شمیر کډوالو لپاره شتون لري. مخکې لدې چې تاسو پروسه پیل کړئ، په کوم کې چې به ستاسو او همدارنګه د متحده ایالاتو د دولت لخوا هڅې شامل وي، تاسو باید ډاډه اوسئ چې تاسو متحده ایالاتو کې د بیا میشت کیدو لپاره چمتو یاست که چیرې تاسو وړ وموندلي شئ.

که چیرې تاسو د UNHCR لخوا وپیژندل شئ یا د یو مستقیم لاسرسي وړ غوښتنلیک له لارې متحده ایالاتو کې د بیا میشت کیدو لپاره په پام کې ونیول شئ، نو ګامونه دا دي:



## لومړی ګام: د ارزونې څخه مخکې مرکه




د USRAP په پروسه کې لومړی ګام د بیا میشته کیدنې ملاتړ مرکز، یا RSC سره د ارزونې څخه مخکې مرکه ده. د متحده ایالاتو دولت نړیواله او غیر دولتي سازمانونو ته د RSCs چلولولپاره پیسې ورکوي.

د RSC کارمندان به ستاسو د پیژندنې سندونه وګوري او ستاسو (او ستاسو کورنۍ، که چیرې تاسو یوځای عریضه کوئ) لپاره به د قضیې دوسیه رامینځته کړي. تاسو به خپل عکس اخیستی وی. دوی به له تاسو څخه ستاسو د تجربو په اړه مهمې پوښتنې وکړي او د لومړني امنیتی کتنو لپاره اړین بایوګرافي معلومات به ترتیب کړي.



## دوهم ګام: د USCIS مرکه

RSC به له تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی خدماتو (USCIS) څخه د یوه مامور سره د مرکې لپاره وخت وټاکي کوم چې د متحده ایالاتو د کورني هیواد امنیت (DHS) څانګه ده. دوی به له تاسو څخه ډیری ورته یا یوشان پوښتنې وکړي کومې چې تاسو د ارزونې څخه مخکې مرکه کې ځواب کړي. تاسو باید پوښتنو ته دقیق او د خپلې پوهې پر اساس غوره ځوابونه وواياست.

USCIS به بدې اړه ورستی پریکړه وکړي چې ایا تاسو متحده ایالاتو کې د بیا میشته کیدو لپاره وړ یاست.  کله چې RSC د USCIS څخه ستاسو د قضیې پریکړې په اړه معلومات ترلاسه کوي، نو دوی به تاسو ته خبر درکړي:

- که چیرې تاسو او ستاسو په قضیه کې د کورنۍ غړي متحده ایالاتو کې د بیا میشته کیدو وړ وي؛
- که چیرې تاسو او ستاسو په قضیه کې موجود د کورنۍ غړي په متحده ایالاتو کې د بیا میشته کیدو وړ نه وي؛ یا
- که چیرې USCIS ستاسو د ورتیا د معلومولولپاره ډیر وخت ته اړتیا ولري.

که چیرې تاسو ته دا خبر درکړل شئ چې ستاسو قضیه وړ ده یا دا چې پریکړه لا اوس هم ځنډیږي، نو ستاسو غوښتنلیک به په پروسه کې پرمختګ ته دوام ورکړي. په هرصورت، هره قضیه د ټولې پروسې په اوږدو کې د امنیتي تصفیې تابع ده. د قضیې پریکړې څه وخت هم بدلیدلی شي.

**د ټولې پروسې په اوږدو کې، ستاسو معلومات به د متحده ایالاتو حکومت نورو ادارو ته د امنیتي کتنو لپاره واستول شي. دغه اداري د هغه معلومات چې تاسو ورته چمتو کړي پلټنه کوي ترڅو ډاډمن شي چې دا ریښتینې او سم دی. خینې وختونه، امنیتی تصفیه کولی شي د بشپړیدو لپاره ډیری میاشتې ونیسي او په خینو پیښو کې، ممکن هیڅکله د متحده ایالاتو حکومت لخوا ورنه کړي شي.**



## دریم ګام: طبي معاینه

تاسو او ستاسو په قضیه کې د کورنۍ هر غړی به د لازمي طبي معاینې لپاره په لست واچول شي. ځینې وختونه به ستاسو د USCIS مرکې څخه مخکې طبي معاینې ترسره شي. لطفاً ټول موجود طبي او د واکسین ریکارډونه راوړئ. کېدای شي د روانیدو څخه مخکې د واکسینو له یوې لړۍ څخه تیریږئ.




## څلورم ګام: کلتوري ورپېژندنه

RSC به تاسو ته د کلتوري لارښود کې ګډون لپاره هم وخت درکړي چیرته چې تاسو به متحده ایالاتو ته د سفر په اړه مهم معلومات ترلاسه کوئ او کله چې تاسو راورسیږئ د څه تمه به وکړئ.

پدې وخت کې، د متحده ایالاتو د بیا میشتېدنې اداره به د متحده ایالاتو حکومت سره کار وکړي ترڅو ستاسو او ستاسو د کورنۍ لپاره انتظام وکړي که چیرې تاسو د پروسې راتلونکي مرحلې ته دوام ورکړئ. که چیرې ټولې امنیتي تصفیې ورکړل شي، نو په متحده ایالاتو کې به ستاسو ورستی منزل وټاکل شي او تاسو به د سفر لپاره تصویب شئ.



## پنځم ګام: سفر



پدې مرحله کې، RSC به د کډوالۍ لپاره د نړیوال سازمان یا IOM سره همکاري وکړي ترڅو متحده ایالاتو ته ستاسو د پرواز مهالویش جوړ کړي. پرته له سود د سفر پور لاسلیک کولو ته اړتیا لرئ، چې د پور سند یا د ژمن یادښت په نوم **یادیږي**، تر څو د پرواز لګښت لپاره تادیه وکړي. تاسو به د سفر پور متحده ایالاتو ته د رارسیدو څخه وروستو د درې نیم کلونو په موده کې بیرته ورکولو ته اړتیا ولرئ.

د روانیدو د چمتووالي لپاره، تاسو به د روانیدو څخه مخکې طبي معاینې څخه هم تیریږئ. دا به دا ډاډه کړي چې تاسو د سفر کولو لپاره کافي روغ یاست او د کارمندانو سره به دا مشخص کولو کې مرسته وکړي چې ایا تاسو د سفر په اوږدو کې کومې طبي مرستې ته اړتیا لرئ که نه.



## شپږم ګام: رارسیدنه

کله چې تاسو متحده ایالاتو ته ورسیږئ، نو د بیا میشتیدنې اداري یو استازی (یا ستاسو خپلوان، که چیرې تاسو په متحده ایالاتو کې خپلوان لرئ) به تاسو سره په هوایی ډګر کې لیدنه وکړئ. د بیا میشتیدنې اداره په متحده ایالاتو کې ستاسو د لومړي 30-90 ورځو لپاره د اساسي خدماتو سره ستاسو د مرستې مسؤلیت لري. تاسو به په متحده ایالاتو کې د کار کولو قانوني حق او مسؤلیت ولرئ او د بیا میشتېدنې اداره به تاسو د استخدام د خدماتو سره وصل کړي. که چیرې تاسو د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان لرئ، دوی د رارسېدو سره سم وریا عامه ښوونځیو کې ګډون کولی شي.

## بیا میشتیدنې څخه وروسته



په متحده ایالاتو کې د یو کال وروسته، تاسو باید د یو قانوني دایمي اوسیدونکي جوړیدو لپاره عریضه وکړئ. د رارسیدو څخه پنځه کاله وروسته، تاسو ممکن د امریکایي تابعیت لپاره عریضه وکړئ، چې د د نورو امریکایانو ته ورته ټول حقوق او مسؤلیتونه ولرئ.

**د بیا میشتیدنې د پروسې ټول خدمات وړیا دي. په پروسه کې هیڅکله باید څوک د خدماتو په نوم له تاسو څخه د لګښت غوښتنه ونه کړي. که چیرې څوک له تاسو څخه د پیسو غوښتنه کوي، تاسی اړباسی ترڅو غوښتنلیک وړاندی کړئ،همدا راز په غوښتنلیک کې د لاسوهنې یا د ګرندیتوب وړتیا لرلو ادعا کوی، یا تاسو ته څه ډول ګواښ کوي، نو لطفاً دا د خپل بیا میشتیدنې ملاتړ مرکز ته راپور ورکړئ.**

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**